


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه، علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست !

# د مولانا داکتر محمد سعيد « سعيد افغانی » ليکنه

د نشر نيټه : 22 فبروری 2017 م

# غوری وينـاوی

ـ استقامت په ژوند کی او متانت په کارنوکی ، د مـوفقيت راز دی .

ـ افسوس ، افسوس او بيا بيا افسوس ؛ چه دخلکو د خدمت په منظور او دعلــيا منافعو د تامين په غرض ځومره چه می هيله درلودله کامياب او مـوفق نشوم .

ـ آفرين په هغوی چه پدی ناګزير جريان کښی حوصله دلاسه نه ورکوی او په ميرانه قدم په قدم اصلاحات روالی او اجتماعي عدالت ته احترام لری .

ـ اميد واری ښه تجويز دی ، چه ورسره دهمت متی هم پورته شی او عاقلانه تجويز سره عـاقلانه فعاليت جوت په کار ولويږی .

ـ اعتـدال ښه شی دی ، خود عتدال پيدا کول اکثر د خطبونو سره مواجه کيږی او د عامه منافعو د تامين د اتکل په اساس زيات غور او دقت ايجا بوی ، نو پدی اساس د اعتدال معلومول بايد د پو هانو يوه پياوړی کميته او يا کميتی تخميني کړی .

ـ افسوس ! د ملت پرستی دعوی له هر چا ځخه زياتی ملي خاينان کوی او واقعي وطن او ملي غو ښتونکی يو د بل پسی په تورونو تورن کيږی ، په مشکلاتو مواجه ، له صحنو ځخه وتلی او ويستل کيږی چه په تدريجي رنځ او مرګ رنځـور او مري .

ـ احتياط ښـه دی، خو چی داحتياط ځخه مضراحتياط جوړنشی او د جمود او خمود موجب و نه ګرځی .

ـ بايد ووايم چی ناپوه خلک په دی نه پوهيږی چی د دوی تقدير ځنګه دی ، پوه خلک پوهيږی چی تقدير او د تقدير واک دار ؛ د خلکو ځخه د کار او د کار د کولو غوښتنه کوي .

ـ تیرویستل کمزوری ده ، تیرویستل اخلاقي ضعف دی او دا دهغو کسانو کار دی کوم چی په میرانی نشی کولی مطلب لاس ته راولی .

ـ تیرویستل اعتماد او اطمینان له مینځه وړی ، او په جامعه کښی تیرویستونکی کسان آخر د رسوائی سره مخامخ کیږی .

ـ په اسلام کښی اوامر او نواهی ، حلال او حرام ، ښه او بد د خلکو د طبعي آزادی تمایل په اساس بنا ؛ او د اخلاص ، مینې ، محبت او اجتماعي عدالت راز لری.

ـ په جوامعو کښی په عاملانه ډول د خیر احساس قوي وساتل شی ، او پام وساتو چې د شر په مقابل کښی عالمانه مجادله ته دوام ورکـــړی شي .

ـ پام کوه چی خطا نشی ، او که خطا شوی د خپلی خطائي څخه باید عبرت واخلی تر څو بیا خطا نشی ، ځکه چی دغه شان عادت د انسان منزلت ټیټوی .

ـ پام کوه چه ونه ښوېږی ، او که د ښوئیدو احتمال وی نوامسا د ځان سره ملګری ساته .

ـ په هر جامعه کښي یوه خلک د جامعی لپاره د حیاتي پانګی مثال لری؛ نو هغه جامعه موفقه ده چی خپله پانګه په معقوله ډول سره په کار واچوی .

ـ حقیقت دا دی چی : د خیر او شر مجادله کښی ، ستر قهرمانان سرټکوی او د سترو خدمتونو مصدر ګرځی .

ـ حقیقت دا دی چی : زمونږ مشکلات زیات دی او په هره برخه کښی کار د نقطی څخه شروع کیږی، نو که د خپل عالي هدف په خوا حرکت کوو، یوازی کومه چاره چی ده ؛ هغه همدا چی ټول په ګډه دغه درونډ بار تر منزله او مقصده ورسوو، دا دی هدف او د هدف ، هدف .

ـ خطائی بده ده او تکراری شنیع دی؛ نو اول کوښښ کوی چی خطا نه شی او که خطا شی باید د شناعت سره مواجه نشی .

ـ خیال بافی چه وځنډیږی ورڅخه مزمن مرض جـوړیږی او د رکود ، خمـود او جمود موجب ګرځی .

ـ ځنګه چی لیدل کیږی د د نیا اکثری بی نظمي د قهر اوغضبی اثرات دی ؛ نو ځکه دهر څه نه اول دقهر او غضی اساسی چاره په کار ده .

ـ دا منلی حقیقت دی چی د عالي مرام ټاکل او مترقي پروګرام جوړول پخی رهبری ته ضرورت لری او په دی هڅه او هیله کلک او معقول نظم او دسپلین پیدا کول ، په کار دی .

ـ د انسان د رسالت غوښتنه داده چی خلک د حق او حقانیت په رڼا کی ژوند وکړی او خپلی وینـاوی ، تعبیر ، لیکنی ، کـړه او وړه په همدغه اساس عیار کړی .

ـ د حقیقت څخه تعبیر باید د حقیقت د واقعی روښانتیا په اساس وی.

ـ د خیر مفکوره د خیر او خیرونو مولـد ګرځي او زیات دوام او حسن عاقبت پیدا کوی ، د شر مفکوره که څه د شر او شرونو مولد ګرځي خو زیات دوام او حسن عاقبت نه لری .

ـ دانسان دسعادت او ترقي او تعالی دپاره هیڅکوم سبب بی د سعی او زحمت ګاللو ځنی نشته دی.

ـ د انسان وظیفه داده چی دخپلو مشکلاتو د حل لپاره او دحیات دصحنی دلوړوالی او ښه توپ له امله به د ژوندان یو دقیقه او ثانیه بیکاره نه پریږدی هو دژوندونه هر دقیقه او ثانیه دالماسو ځنی زیات قیمت لری .

ـ زمونږ خیال او تصور اکثر په هوا او هوس اتکا لری ! همدا وجه ده چی کله بی مورده او بی موقع تمایلونه لرو او ناروا هوسونه هم کوو او که نه چیری زمونږ خیال او تصور په دقت ، تحلیل ، تدبیر او واقعیت روان وي نو بی مورده او بی موقع تمایلونه به مونه درلودل او ناروا هوسونه به مو نه کولی ؛ نتیجه به داوه چی کامیابي او بریالیتوب چانس به مو زیات وی .

ـ زه کله د ځان سره وایم کاشکی نه وای پیدا ، او که پیـدا وای په هغـه رمز پـوه شوی وای چه ځان او د خلکو ژوند می د بی نظمیو ، لانجو او مشکلاتو څخه خلاص کړی وای .

ـ زما باور دا دی چی زمونږ په ملک کښی ښه با درده عالم او فاضل خلک دومره شته ، که چیری دوی د خلکو اذهان تنویر او اصلاح کړی اود خلکو افکارد اجتماعي خدمتونو، خیررسولو اوعاطفی په خوا تنویر کړی ؛ حتمآ به عمومي رفاهیت راتلونکی شي او اجتماعي مفاسد به محوه شي .

ـ زما په عقیده د وطن د ابادی له پاره ښه تدبیر دادی چی اجتماعي امراض تشخیص او د معالجی د پاره یی اقدام و شی .

ـ زما په عقیده چی د بشر حقیقي سعادت به هلته حاصل شی چی مادیت او رو حانیت خپل تعادلی رنګ قبول کړی .

ـ ژوند کول د کړاونو سره مجادله ده ، پدی مجادله کښی هغه څوک دبریالی توب مقام ته رسیږی چه لاس تر ځنی کی نه ئی، او د اګاهانه شعورسره یو ځای کار اوعمل ته دوام ورکړی.

ـ زه د مرګ څخه نه داریږم ؛ او نه د مرګ څخه دار زما په تصمیم باندی منفي تاثیر اچولی شی ! خو د هغه مرګ څخه په ویره کښی یم ؛ چی زما د پاکو هیلو او هڅو په مخ کښی خنډ پیدا کړی او یا د وطن د ښمنان ، موجوده په زړه پوری فرصت له مینځه یوسی.

ـ سړی باید خپل قیمتی وخت په لهو او عبث تیر نه کړی ځکه دژوندانه هره لحظه چی تیره شوه نو لاړه، بیرته نه راګرځی .

ـ ښه تدبیر دادی چه اول دقام ، ولس او وطن ټول دردونه درجه بندی او وسیرل شی او بیا د حـل دپارئی عمومی ذهنیت اوروحیه دیو مثبت تحول، تطور او بدلون پخاطر اماده او برابرشی .

ـ غضب دیو ساعت لیونتوب دی ! پدی وخت کښی سړی باید اوبه وسکی او یا ویده شی ؛ نو غضب به یی تخفیف پیدا کړی .

ـ غضب ناکو خلکو مزاج د اعتدال ځنی زيات حرارت خواته مايل وی او که داقسم مزاج دوام وکړی نويو قسم جنون پيښيږی چه هغی ته داطبا ء ويه اصطلاح کښی سبعی ( ددرندګانو ) جنون وايی.

ـ که و وايی : دا د قدرت خاوند خو په ښکاره ډول د خپل قدرت څخه ناوړی استفاده کوی !!!
وايی : ته د دی حق نه لری چه په لو يا نو يا ندی اعتراض و کړی . اطاعت ! اطاعت ! حتی د ړوند او کوڼ اطاعت ! لاس په سينه او سر په رکوع ؛ اطاعت ! اطاعت ! او که نه ؛ دا ډبلی او ستا سر !!!

ـ کوم هغه وطن او جامعه چه هلته پوهان خپل مسوليت پيژنی په داسی جامعه او وطن کښی خلک ډير روښانه احساساتو خاوندان وی

ـ که منطق ، استدلال ، شرافت او کرامت کار نه کوی نو دظالمانو او مستبدانو ګريوانو ته لاس واچوی، او په دغه ليار کښی د جائزی دفاع په منظور او د انسانی کرامت د حمايی او ساتنی له امله د ژوبلی ، ربړ او مرګ څخه مه ډاريږی .

ـ کاشکی : په ختيځ او لويديځ کښی يو جهاني عادلانه حکومت او نظام جوړشی او بی له هيڅ ډول ناروا افشار او غولولو څخه بشری طاقت په کار واچول شی .

ـ کاشکی : د مساوات او برابری اصلی او اساسی اصول د خلکو د استعدادونو او امکاناتو په اساس عادلانه تطبيقيدلی .

ـ کاشکی : استعماری او استثماری مفکوری او دسيسی په ټولو زنګونو له مينځه تلی وی، زورزياتی، باداری او آقايی نه وی .

ـ کاشکی : سياسي مانورو او تکتيکونو او حربي وسلو او سامانونو د خلکو ژوند د ويری او تشويش سره نه وی مواجه کړی اوپه دغه ليارہ کښی ګذاف مصارف د فساد په ځای د بشر د ارتقآ او آرامی په لياره کښی صرفيدلی .

ـ کاشکی : احتکاری او انحصاری جديت او فعاليت نه وی روان او دپيداوارو او توليداتو څخه عادلانه استفاده کيدلی .

ـ کاشکی : د جنګ ، جدال ، شقاق او منفي اختلافات په ځای دميني ، محبت او مرستی دنيا جوړه شي او د غدر ، خيانت ، ظلم ، استبداد ، حسد او کيني ځای ؛ وروروليو او عاطفه و نيسی .

ـ کاشکی : د دنيا ټولی ښاری او ميری اباد ، او ثروتي منابع او مدارک عادلانه استفادی وړ ، علم ، فن او تخنيک د بشر د صحت ، سلامت ، آرامی او اطمينان لپاره استخدام شی .

ـ کاشکی : نژادی توپير له مينځه لاړ شی او خاندانی تفوق او امتيازات نه وی .

ـ کاشکی : ناوړه رسمونه ، رواجونه او عادات نه وی او نه د حق او حقانيت اثبات په دغه مقياس کيدلی . هو : ارمان چی که د حق او حقانيت د معرفت لپاره اساسي او بنيادي حرکت د واقعيت بينی په ودار څرخيدلی .

ـ کاشکی : د خلکو له قواو څخه استفاده د استعمار، استثمار ، غلامی او بردگی په چم نه وی .

ـ کاشکی : د علم ، فضل ، تعلیم ، تربیی او ښودنی په پروګرامونو کښی د اغفال آلوده اعمال او اغراض دخل نه در لودلی .

ـ کاشکی : حدود او سرحدونه د انسان او انسانیت پرمخ خلاص وی او د جاسوسی او تخریباتو ویره او ډار نه وی .

ـ کاشکی : د خیر ، فضیلت او تقوی لپاره کار د ریائی تلوثاتو څخه خلاص وی ، دنزویر دامونه او چالونه نه وی اونه په ظواهرو باندی دغولوونکو صحنو چلیدل د مایوسی ، نا امیدی او بد ذهنیت د پیداکیدو موجب ګرځیدلی .

ـ کاشکی : د غیرت ، میرانی او مبارزی عناصر په خپلو کښی پخلا او اشتي وی ؛ تر څو خلک د وحشت پستو عناصرو له ناروا ګیر ، بند ، بی ابی او عار ژوند له تحمیله خلاص وی .

ـ لورنه باید د اجتماعي منفعت د تامین په اساس وی ، د حقوقو د پیژندنی راز ولری او د توان او طاقت له اندازی څخه پورته او ښکته سرایت و نه کړی .

ـ لورنه باید د خپل ځان د ښودنی او جاه طلبی له مفکوری او عمل څخه سوچه شی .

ـ شکاکی بده ده ، هغه داچی هر څه ته په شک وکتل شی او په شک کښی بیاهم شک پیدا شی ، او که نه ډیر کرته شک د تصفیی ، یقین او باور موجب ګرځی . نو پام کوه چی څو مره شک څخه باید کار واخستل شی ! همدا وجه ده چی شک د علماو او اهل دل خاوندانو په نزد ، د علم او معرفت لپاره یو ضروری پړاو ګڼل کیږی.

ـ مونږ زیات خوښیږو او هوسیږو چی هدف ته رسیږو او په دغه مسیر او حرکت کښی ډیر څه وایو او په خبرو زور اچوو! خو افسوس چی د دی تریخ حقیقت سره مواجه یو چی د عمل او تطبیق په ساحه کښی اقلاً د قدم پورته کولو توان او قدرت هم نه لرو او څه مو دلاسه پوره نه دی .

ـ مونږ اکثراً په خیال او تصور کښی خپلو نواقصو او نیمګړتیاو ته ښه نه متوجه کیږو او حتی خپل عیب له ځانه هم پټول غواړو ! او که چیری مونږ په خیال او تصور کښی اول د تزکي او تصفیی حرکت له ځانه نه شروع کړو ، ډیر ښه کیدی شي چی د عمومي اصلاحاتو لپاره معقوله لیاره او ګودر پیدا کړو.

ـ مونږ ډیرمهم کیدونکی کارونه نه کوو او راته واړه ښکاری! حال دا چی واړه کارونه د لویو کارونو د کولو لپاره زمینه برابروي اوپه تدریجي ډول کوی شوچی لوړو اهدافو ته هم ځان ورسوو .

ـ مونږ اکثرد خیال او تصور د نه تزکی او اداری په آخر د وسواس سره مخامخ کیږو او دا وسواس زمونږ د تشویش موجب ګرځي ! حال دا چی ښه سنجول وسواس نه منی او د تشویش بوی نه پریږدی .

ـ مونږ په خیال او تصور کښی د عاجزانو او بیچاره ګانو سره تمایل نه لرو ! نو ځکه ورسره ښه رویه او معامله نه کوو ، حال دا چی د عاجزانو او بیچاره ګانو سره ښه رویه او معامله کول د ژوند تولی لانجی او غوتی حل او خلاصوی او د موفقیت او سعادت یوازنی لیاره ده .

ـ ننی عصر ډیر ایجابات لری او په ننی عصر کښی زرنګی زیاته شوی ده ، نو پام کوه چی تل د شرایطو ، ایجاباتو اود زرنګیو خیال د ځان سره قوی وساتی .

ـ و ښی که زه ووایم چه زه پوهیږم ، ځکه زه په خپله پدی پوهیږم چه زه نه پو هیږم ؛ او که زه پوره پوهیدلی ، په دی به هم پو هیدلی چه خلک ښنګه پوه کړم .

ـ هو : هغه څه چی ما په دی وطن کښی د بی عقله واک دارانو ښخه لیدلی دی؛ هغه د هیریدو نه دی . خو خوښ یم چی د خلکو په ضد می هیڅ کله، هیڅ قدرت ته د تسلیمیدو سر په رکوع او سجده نه دی ایښی .

ـ هر څه هیریږی خو مینه چی خپلی ریښی د عاشق په زړه ګی و غوڅو ی هیریدل ئی ګران او سخت دی .

مولانا محمد سعید « سعید افغانی »

ترتیب کوونکی : برهان الدین « سعیدی »

www.said-afghani.org ـ بازگشت به صفحه اصلی